رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# د نېکمرغه ژوند لپاره ګټورې وسیلې

الوسائل المفيدة للحياة السعيدة

بشتو

پښتو

ليکوال
شيخ عبد الرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله

الوسائل المفيدة للحياة السعيدة

# د نېکمرغه ژوند لپاره ګټورې وسیلې

لیکوال

شیخ عبد الرحمن بن ناصر سعدي رحمه الله

# سریزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده وعلى آله وصحبه أجمعين ومن تبعه بإحسان إلى يوم الدين أما بعد:

دغه مبارکه رساله چې په: د نېکمرغه ژوند لپاره ګټورې وسیلې نومول شوې ده، د رېښتیني نېکمرغۍ معنی روښانه کوي، کوم چې پدې ژوند کې د هر انسان تر ټولو اوچته موخه ده، د نېمکرغۍ په مفهوم کې مختلف نظرونه شتون لري، او دا چې څنګه ترلاسه کېږي ځیني یې د مال په راټولولو او هغې ته په وده ورکولو کې لټوي، او ځیني یې د بدن په سلامتۍ او د هیوادونو په امنیت کې لټوي، او ځیني یې په حلال رزق او ګټورې پوهې لاسته راوړنو کې لټوي، او ځیني یې په ریښتیني ایمان او صالح عمل او استقامت کې لټوي، او هېڅ ممانعت نشته چې یاد مفاهیم د نېکمرغۍ په مفهوم کې داخل شي، په داسې حال کې چې د شرعي قواعدو او ضوابطو سره اړخ ولګوي، مګر نېکمرغي په دوه برخو وېشل شوې ده:

دنیوي لنډمهاله نېکمرغي چې متغیر او لنډ عمر لپاره محدوده ده

تل پاتې نېکمرغي چې هېڅکله نه قطع کېږي او هېڅ حدود نلري

او دواړه نېکمرغۍ د یو بل سره تړلي دي، څکه چې د دنیوي نېکمرغۍ د آخرت نېکمرغۍ سره تړاو لري، نو په دنیا او آخرت کې کامله او نېکه نیکمرغي هغه ده چې الله تعالی له متقیانو مومنانو څخه راضي وي، څرنګه چې الله تعالی فرمايي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: ٩٧]

من عمل صالحاً من ذكر أو أنثى وهو مؤمن فلنحيينه حياة طيبة ولنجزينهم أجرهم بأحسن ما كانوا يعملون

چا چې نېک عمل وکړ، که نارینه وي که ښځینه خو چې مومن وي نو حتماً به ښه ژوند ورباندې تېر کړو او آخرت کې به د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو   سورة النحل آیة رقم ۹۷

ګرانه وروره! څه فکر کوې چې نېکمرغي څه شی دی؟ او څنګه تر لاسه کېږي؟ او بدبختي څه شی دی؟ او موږ له هغې څخه څنګه ځانونه وساتو؟!!!

نېکمرغي د الله تعالی او د هغه د رسول کریم محمد صلی الله علیه وسلم په اطاعت کې را نغښتل شوې ده

همدارنګه، توله بدبختي د الله او د هغه د رسول په سرغړونه کې را نغښتل شوې ده، الله تعالی فرمايي:

﴿...وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا٧١﴾ [الأحزاب: ٧١]

او چا چې د الله او د هغه د رسول خبره ومنله نو په رېښتيا هغه برى وموند، لوی برى   سورة الأحزاب :آية رقم ٧١ :او الله تعالی فرمايلي

﴿... وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا٣٦﴾ [الأحزاب: ٣٦]

او څوک چې له الله او د هغه له رسوله سرغړونه وکړي، نو هغه بې لارې شو په يو څرګند بې لارېتوب سره    سورة الأحزاب :آية رقم٣٦

دغه کتاب  د نېکمرغه ژوند لپاره ګټورې وسيلې  چې موږ سره دی د ښاغلي الشيخ علامه: عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله السعدي -رحمه الله- ليکنه ده، چې اته فصلونه لري، او په هغې کې هغه اسباب چې د واقعي نېکمرغۍ سبب ګرځي بيان کړې دي، او دې نيمکرغۍ ته د رسېدو طريقې او وسايل او اسباب چې پر شرعي دلايلو چې له کتاب او سنت څخه سرچينه اخلي ولاړ دي، ترڅو د نېکمرغه ژوند لپاره سمه لاره ترسيم کړي چې

هر مسلمان يې په لټه کې دی، او دا چې مسلمانه ټولنه د يادې لارې په تعقيبولو سره خپل ژوند په بصيرت او روښنايي کې تنظيم کړي

د اسلامي چارو اوقاف دعوت او ارشاد وزارت د فعاليتونو څخه چې د صحيحو معلوماتو او د خلکو پوهاوی دی، دغه کتاب غوره شوی دی ترڅو د خپلو ګټورو خپرونو څخه يوه خپرونه وي، او په دې ژوند کې چې ستونزو او کړاونو څخه ډک دی لارښود او مرشد وي

د لوی او ځواکمن الله څخه غواړو چې هغه کسان چې دغه کتاب يې ليکلی او د چاپ او نشر او ډيزاين په چارو کې يې زيار ويستلی او هڅه يې کړې ده او يا يې په دې کار کې مرسته کړې ده ډېر اجر او ثواب ور په برخه کړي، او الله تعالی د نېغې لارې توفيق ورکوونکی او لارښود دی، او هغه زموږ لپاره کافي او غوره وکيل دی

وصلى الله وسلم وبارك على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين

دکتور عبد الله بن احمد زيد

د وزارت د چاپ او نشر د چارو مرستيال

د لومړي چاپ سريزه

دغه رساله چې زموږ سره ده د ريښتيني نېکمرغۍ تر نامه لاندې واضحې کرښې ترسيموي کوم چې هر انسان يې په لټه او هڅه کې دی، چې د بشري له تمايل څخه لرې او د قرآن عظيم او د حکمت څخه ډک نبوي لارښوونو او قوي دلايلو باندې په اعتماد سره دغه کرښې او زاويې ترسيموي او همدغه هماغه نېکمرغي ده چې مؤمن انسان يې په لټه کې وي، او مؤمنه ټولنه يې احيا کوي، ځکه دا يوازينۍ لار ده چې د خپل د ژوند مسير د الله تعالی په رضايت او له هغه څخه په وېره کې تنظيميوي

د دې رسالې ليکوال د فضيلت وړ، شيخ، عالم، او علامه عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله آل سعدي دی، چې د سعودي عربستان د نجد په سيمه کې د القصيم په عنيزه ښار کې زېږېدلی

دی، هغه ماشوم و چې مور او پلار یې وفات شوي وو، خو د علم په زده کړه کې یې ډېر هوښیارتیا او علاقه درلوده، په کم عمر کې یې د قرآن کریم حفظ پیل کړ، تر دې چې په دولس کلنۍ کې یې بشپړ کړ، وروسته له هغې څخه د علم په لټه کې شو او د خپل هیواد له علماوو او نورو هغو علماوو څخه چې سعودي ته راغلي وو علم زده کړو، نو د زده کړې په برخه کې یې هڅې پیل کړې تر دې چې په لویه او پراخه پیمانه د علومو او معارفو څېښتن شو

په درې ویشت کلنۍ کې یې د علم په زده کړه، او تدریس او له هغه څخه په ګټې اخېستنې او ګټه رسولو پیل وکړ، چې ټول عمر یې په دې برخه کې تېر کړ او ډېرو خلکو ترې زده کړه وکړه او ګټه واخیستله

او د هغه له شیوخو او استادانو څخه شیخ ابراهیم بن حمد بن جاسر و، او هغه لومړی کس و چې ده ته یې لوست کړی و

شیخ صالح بن عثمان چې د عنیزه قاضي و، له هغه څخه یې اصول، فقه، توحید، تفسیر او عربي زده کړ، او تر مرګه پورې له هغه سره پاتې شو، او شیخ په فقه او اصولو پوره پوهه درلوده او د توحید په مسایلو کې یې پوره تجربه درلوده، ځکه چې د معتبرو کتابونو سره یې علاقه او اړیکې وې، په ځانګړي ډول د ابن تیمیه او ابن القیم له تصانیفو سره په ځانګړي ډول د تفسیر او د هغه فنونو سره یې ډېره مینه درلوده، نو هغه یې تر هغې کچې ولوستله، چې په هغه کې یې مهارت او برلاسي پیدا کړه، او د تفسیر په برخه کې ډېر کتابونه لري:

تیسیر الکریم المنان في تفسیر کلام الرحمن په اته برخو کې

تیسیر اللطیف المنان في خلاصة تفسیر القرآن

القواعد الحسان لتفسیر القرآن

د هغه هغه کتابونه چې د ترلاسه کولو او ګټه اخیستنې لپاره یې سپارښتنه کیږي، سربېره له هغو چې مخکې یاد شول:

الإرشاد إلى معرفة الأحكام

الرياض الناضرة

بهجة قلوب الأبرار

منهج السالكين وتوضيح الفقه في الدين

حكم شرب الدخان وبيعه وشرائه

الفتاوى السعدية

هغه د ګڼورو خطبو درې ټولګه لري

الحق الواضح المبين بشرح توحيد الأنبياء والمرسلين

توضيح الكافية الشافية نونية ابن القيم

د فقه، توحيد، حديث، اصولو، ټولنيزو خيړنو او مختلفو فتواګانو په اړه يې ډېر کتابونه ليکلي دي

د هغه وفات: هغه په يوه ناڅاپه، سخته ناروغۍ اخته شو، چې د هغه د مرګ لامل شو، هغه د پنجشنبې په شپه د جمادي الآخر په درې ويشتمه نېټه په ۱۳۷٦ هجري قمري کال په عنيزه ښار کې وفات شو، او پر ټولو هغو کسانو چې هغه يې پېژنده او يا د هغه په هکله يې اورېدلي وو او يا يې د هغه ليکنې لوستلې وو، ژور اثر او خفګان يې پرېښود، الله تعالی دې هغه باندې لوی رحم وکړي او موږ ته دې توفيق را کړي چې د هغه له پوهې او ليکنو څخه ګټه پورته کړو آمين

د رياض ښار، ۱۱ رمضان ۱۳۷۸هـ

نور د چاپ او پوښ موسسه

# د ليکوال سريزه

الحمد لله الذي له الحمد كله، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم

اما بعد: د زړه سکون، اطمينان، خوشحالي، او د هغې د انديښنې او غمونو لرې کول هغه څه دي چې هرڅوک يې غواړي، او په دې سره ښه ژوند ترلاسه کېږي، خوشحالۍ او خوښۍ بشپړېږي، او دې لپاره ديني او طبيعي لاملونه دي، او د دې ټولو شيانو ښبنتن کېدل ممکنه نه ده مګر د مومنانو لپاره، او که دغه خوشحالۍ پرته له مومنانو نورو ته د کوم سبب له لارې پېښ شي، دا به د هغوي د عاقلانو خلکو يوه هڅه وي، حال دا چې هغوي ډېرې ګټورې، ثابتې لارې له لاسه ورکړې دي، چې د حال او راتلونکي لپاره ډېرې مفيدې تماميدلې شي

خو زه به په دې رساله کې د دې لوې غوښتنې او مطلب د هغې لاملونو يادونه وکړم چې زما ذهن ته راځي، کوم چې هرڅوک يې په لټه کې دي

ځينو خلکو د دې لاملونو ډېرې برخه ترلاسه کړي چې خوشحاله او ښه ژوند لري، او ځينو خلکو د دې لاملونو څخه هېڅ نه دي ترلاسه کړي چې خپل ژوند د بدبختۍ او شقاوت سره تېروي او ځينې خلکو د دې دواړو په منځ کې دي، د هغه څه په تناسب چې په هغې کې برياڵي شوي دي او الله تعالی توفيق ورکوونکی دی او هغه په خير کې مرسته کوي او له شر څخه مخنيوي کوي

# فصل

١- تر ټولو لوی لامل، اساس او اصل، ایمان او صالح عمل دی، الله تعالی فرمايي:

﴿مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾﴾ [النحل: ٩٧]

من عمل صالحاً من ذكر أو أنثى وهو مؤمن فلنحيينه حياة طيبة ولنجزينهم أجرهم بأحسن ما كانوا يعملون

چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکېزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول سورة النحل :آية٩٧

الله تعالی هغو کسانو ته خبر ورکوي، چا چې ایمان او نیک عمل سره یو ځای کړي، په دې دنیا کې د ښه ژوند، او په دې دنیا کې او ابدي نړۍ کې د ښه اجر ژمنه کوي

د دې سبب روښانه دی: هغه مومنان چې په الله تعالی صحيحه عقیده لري، کوم چې نیک عمل زیاتوي، په دنیا او اخرت کې زړونه او اخلاق برابروي،، هغوي سره هغه اصول او اساسات شتون لري چې له هغې له لارې دوي د خوښۍ او خوشحالۍ، اضطراب، اندیښنې او غمونو ټول اسباب استقبالوي

دوي د خوښۍ او خوشحالۍ ځیزونه قبلوي او د هغې شکر ادا کوي، او په ګټورو کارونو کې یې مصرفوي، نو که دوی دغه خوشحالي په دې ډول وکاروي، د هغې څخه خوښي ترلاسه کوي، او د هغې دوام او برکت غواړي، او شکر ګذاران د خپل ثواب هیله لري، ډېره

ستره او عظیمه ده کوم چې د هغې خیر او برکت له دې خوشحالیو څخه زیات دی کوم چې د دې خوشحالیو ثمرات ګڼل کیږي

دوي کړاونه، زیانونه، اندېښني او غمونه قبلوي او څومره چې ممکن وي ورسره مقاومت کوي، او هر څومره چې کولی شي هغو کې تخفیف او کموالی راولي، او د هغه څه پر وړاندې صبر کوي چې د پېښېدو پرته بله چاره نه لري، نو په دې سره دوي د کړاونو آثار په ګټور مقاومت، تجربې، قوت تر لاسه کوي، او همدارنګه زغم او د ثواب او اجر تمه کول سختۍ او کړاونه له منځه وړي، او ښې هیلې او خوشحالۍ د کړاونو ځاي ناستې کیږي، او د الله تعالی فضل او اجر ته هیله پیدا کیږي، لکه څنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په صحیح حدیث کې تعبیر کړی دی چې فرمایي:

(( عَجَباً لأَمْرِ الـــمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْراً لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْراً لَهُ وَلَيْسَ ذَلِكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ ))

د مؤمن چارې ته حیرانتیا ده، یقینا چې هره چاره یې په خیر ده، او دا ځانګړتیا له» مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، که خوشحالي ورته ورسیږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خیر دی، او که مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي او دا د ده لپاره خیر دی او دا د هیچا لپاره نشته مګر د مومن لپاره» مسلم روایت کړی دی

نو هغه صلی الله علیه وسلم موږ ته خبر راکړ چې د مومن ګټې او نیکمرغي او د هغه د عملونو ثمرې به په ټولو هغو خوشحالیو او کړاونو سره چه هغه ته پېښیږي څو چنده کیږي له همدې امله تاسو دوه کسان به ومومئ چې د ښه یا بد پېښې سره به مخ شي، خو د دواړو غبرګون د پېښې پر وړاندې د هر یو کس د ایمان او نیک عمل په تناسب توپیر لري دغه یاد کس چې یاد دوه صفتونه لري، خیر او شر په شکر او صبر او هر هغه شیان چې هغو پورې تړلي دي استقبالوي، نو له همدې امله هغه ته خوښي او خوشحالي رسیږي، او د

اندیښنې، غم، اضطراب، د سینې تنګوالی، او د ژوند بدبختی له منځه ځي، او په دې دنیا کې په ښه ژوند لري او دا بل کس ښېګڼې په شرارت، تکبر او ظلم سره استقبالوي د هغه اخلاق منحرف کېږي او هغه دغه ښېګڼې د ځارویو په څېر د حرص او بې صبرۍ سره استقبالوي، او بیا هم زړه یې آرامه نه وي، بلکې له ډېرو اړخونو څخه، د خپلې خوښې شیانو د زوالیدو په وېره کې وي، او د ډېرو پېښو له مخې چې دې شیانو ته رسېږي، او له بله اړخه د نفس خواهشات حد نه لري او د نورو شیانو لپاره لېواله وي، نو ممکن چې ورته پېښ شي او ممکن چې پېښ نه شي، که په اټکل سره ورته پېښ شي، هغه به هم پرته له اندېښنو نه وي کوم چې مخکې یادې شوې سختی او کړاونه به په تشویش، اضطراب، بې صبرۍ ویرې او بې قرارۍ سره استقبالوي، نو د ژوند د بدبختیو، رواني او عصبي ناروغیو، او د هغه د وېرې په اړه پوښتنه مه کوه چې هغه ته څه پېښېږي، او ممکن هغه بدترین حالت او تر ټولو وحشتناکه ستونزو ته ورسوي، ځکه چې هغه د کوم اجر تمه نه لري او هغه صبر او زغم هم نه لري چې هغه ته د ور پېښ شوي مصیبت کې کموالی او اسانتیا راولي

دا ټول د تجربې له مخې لیدل شوي دي، او د دې ډول یوه بیلګه، که تاسو په دې فکر وکړئ او د خلکو په شرایطو کې یې پلي کړئ، نو تاسو به د هغه مومن ترمنځ لوی توپیر وګورئ چې د خپل ایمان سره سم عمل کوي، او د هغه چا ترمنځ چې د هغه په څېر نه دی، دا هغه څه دي چې دین د الله تعالی د رزق ورکولو کې پر قناعت هڅونه کوي، او هغه څه چې هغه خپلو بندګانو ته د خپل هر ډول فضل او سخاوت له لارې ورکړي دي

که چېرې یو مومن په ناروغۍ، فقر، یا ورته پېښو اخته شي چې هرڅوک ورسره مخ دي، نو - د هغه د ایمان او هغه قناعت چې یې لري او رضایت پر هغه څه چې الله ورته ټاکلي دي - د هغه د سترګې د یخوالي سبب ګرځي، او په زړه کې هغه څه نه غواړي چې د هغه لپاره

نه وي ټاکل شوي، او هغه چا ته به ګوري چې له هغه څخه ښکته وي، او هغه چا ته به نه ګوري چې له هغه څخه پورته وي، نو ممکن د هغه خوشحالۍ د هغه چا له خوشحاليو څخه ډېرې وي کوم چې ټولې دنياوي غوښتنې بشپړې شوې وي، که چېرته قناعت و نه لري

همدارنګه تاسو به هغه څوک چې د ايمان په مقتضا سره عمل نه کوي، که په يو څه فقر اخته شي، يا ځيني دنياوي غوښتنې له لاسه ورکړي، نو تاسو به هغه په خورا بدبختۍ او خفګان کې ومومئ

بله بېلګه: که چيرې د وېرې لاملونه رامنځته شي، او انسان په تشويشونو کې اخته شي، نو تاسو به هغه څوک چې د صحيح ايمان خاوند وي، د هغه زړه به قوي، نفس به يې ډاډمن وي، د دې توان لري چې دا مسله اداره او له دې پړاو څخه چې هغه ورسره مخ شوی دی، په فکر، قول او عمل په ښه شکل تېر شي، او هغه ځان د دې ځورونکي ګډوډۍ او تشويشونو لپاره مخکې له مخکي ځان چمتو کړی وي، او دغه شرايط دي چې انسان ته تسليت ورکوي او زړه يې ثابتوي

تاسو به وګورئ هغه څوک چې ايمان نه لري د دې حالت مخالف حالت کې به وي، که چېرته وېره رامنځته شي، د هغه وجدان په تشويش کې شي، فکرونه به يې خپاره شي، او وېره به يې را ګير کړي، بهرنۍ وېره او داخلي انديښنه به ورته راټول شي چې د هغې د تفصيل بيان غير ممکن دي، دا ډول خلک، که چېرې ځيني طبيعي اسباب ورته پيښ نشي چې ډېر تمرين ته اړتيا لري، د دوی ځواک به له منځه لاړ شي او اعصاب به يې په تشويش کې شي، د ايمان د نه شتون له مخې چې صبر باندې ټينګار کوي، په ځانګړې توګه په بحراني حالاتو او غمجنو او ځورونکو حالاتو کې

نو صالح او فاجر، مومن او کافر، د اکتسابي زړورتيا په ترلاسه کولو کې شريک دي، او په هغه غريزه کې چې ويره کموي او اسانوي يې، مګر د مومن ځانګړتيا په دې کې ده چې هغه د قوي ايمان، صبر، او پر الله تعالی باندې د توکل، اعتماد، او د ثواب د تمې له مخې توپير

لري، دا هغه شيان دي چې د هغه شجاعت زياتوي، او د ويرې بار کموي، او ستونزې ور باندې اسانه کوي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... إِن تَكُونُواْ تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ...﴾ [النساء: ١٠٤]

إن تكونوا تألمون فإنهم يألمون كما تألمون وترجون من الله مالا يرجون

که تاسو يئ چې په تکليف کيږئ، نو بيشکه هغوی هم په تکليف کيږي، لکه څنګه چې تاسو په تکليف کيږئ او تاسو له الله نه د هغه څه امېد لرئ چې هغوی يې امېد نه لري سورة النساء :آية١٠٤ هغوي ته د الله تعالی مرستې، ځانګړې ملاتړ او مدد حاصليږي چې د وېرې له منځه وړونکې دي او الله تعالی فرمايي:

﴿... وَٱصْبِرُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٤٦﴾ [الأنفال: ٤٦]

واصبروا إن الله مع الصابرين

او صبر کوئ، بيشکه الله د صبر کوونکو ملګرى دى سورة الأنفال :آية٤٦

٢- او د هغو اسبابو څخه چې انديښنه، غم او اضطراب له منځه وړي، له خلکو سره په قول او عمل کې ښه کول، او هر ډول نيک عملونه دي، او دا ټول خير او احسان دي، او د دې په واسطه الله پاک له صالحانو او فاجرانو څخه هر يو څخه په اندازه انديښنې او غمونه لرې کوي، خو مؤمن تر ټولو بشپړه برخه او حصې لرونکى دى، او هغه د دې حقيقت له مخې توپير لري چې د هغه نيک عملونه د اخلاص او د اجر په تمه له مخې شوي دي

نو الله تعالی د هغه لپاره د ښېګڼې او نيکو کارونو ترسره کول اسانه کوي، ځکه چې د خير رسولو هيله لري، او د هغه د اخلاص او د اجر غوښتلو له امله له هغه څخه سختى لرې کوي، الله تعالی فرمايي:

﴿ لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١١٤ ﴾ [النساء: ١١٤]

لا خير في كثير من نجواهم إلا من أمر بصدقة أو معروف أو إصلاح بين الناس ومن يفعل ذلك ابتغاء مرضات الله فسوف نؤتيه أجراً عظيماً

،هیڅ خیر نشته د هغوی په ډیرو پټو مشورو کې مګر هغه څوك چې حکم وکړي د صدقې کولو یا د نیکۍ کولو، یا د خلقو په مینځ کې د اصلاح روغې کولو، او هر څوك چې دغه کارونه د الله د رضا لټولو لپاره وکړي، نو ژر ده چې هغه ته به مونږ ډیر لوی اجر ورکړو سورة النساء :آیة١١٤

الله تعالی فرمایي چې دا ټولې چارې د هغه چا لپاره خیر دي چې دا ورڅخه صادر شوي وي خیر، خیر راوړي او شر له منځه وړي او هغه مومن چې له الله تعالی څخه اجر غواړي، هغه ته به لوی اجر ورکړي، او د لوی اجر له جملې څخه: د اندیښنو، غمونو، کړاو او داسې نورو شیانو لرې کول دي

## فصل

د اضطراب د لرې کولو د اسبابو له جملې څخه چې عصبي فشار څخه را منځته کېږي، او زړه د ځینو ناخوالو شیانو څخه مصروفوي: ځان په ګټور کار یا علم باندې بوختول دي دا کار زړه د هغه څه په اړه چې هغه یې د اضطراب حال ته رسولی دی، منصرف کوي نو ممکن لدې سره هغه اسباب هېر کړي چې د هغه د اندیښنې او غم لامل شوي و، نو له دې کبله د هغه روح خوشحاله او فعالیت یې ډېر شو، او دغه سبب د مومن او غیر مومن تر مینځ مشترک دی خو مؤمن د خپل ایمان، اخلاص او اجر له مخې د هغه علم سره چې خپله یې زده کوي او یا یې نورو ته ورزده کوي، او په هغه نېک کار کې چې ترسره کوي یې، که هغه عبادت وي، نو عبادت ده، او که هغه د دنیاوي کار وي یا یو عادت وي، نو دغه کار د ښه نیت سره مل وي، او موخه یې له دې کار څخه دا وي چې د الله تعالی په اطاعت کې ورسره مرسته وکړي، او دغه کار د اندیښنې، غم او خپګان په لرې کولو کې مؤثره اغیزه لري، نو څومره انسانان د اضطراب او دوامداره کړاونو سره مخ شوي دي، او مختلف ناروغۍ باندې اخته شوي دي، نو د دوی اغیزمن درملنه د هغه سبب هېرول دي چې هغه یې ځوروله او اندېښمن کړی دی، خپل ځان باید په مهمو کارونو کې بوخت کړي

په کار ده کوم کار چې کوي باید داسې کار وي چې روح او نفس ورسره آرام ومومي او شوق یې ورسره وي، نو په دې سره احتمال لري چې ګټور هدف ته ورسیږي، و الله اعلم

هغه څه چې اندېښنه او اضطراب له منځه وړي، دا ده چې خپل ټول فکر د نن ورځې په کار متمرکز کړي، او د راتلونکي لپاره د اندېښنې او د تېرو وختونو له غم څخه یې لرې وساتي له همدې امله پیغمبر صلی الله علیه وسلم له اندېښنې او غم څخه په الله تعالی پناه غوښته په هغه حدیث کې چې بخاري او مسلم روایت کړي دي ، نو لدې کبله په تېرو

مسایلو باندې چې بېرته راګرځېدل یې ممکن نه وي غم او اندېښنه هېڅ ګټه نه کوي، او هغه اندېښنه چې د راتلونکي له وېرې له امله رامینځته کېږي ممکن د زیان باعث وګرځي، نو بنده باید په خپل عصر او زمانه کې ژوند وکړي، خپل جدیت او هڅې د خپلې ورځې او خپل اوسني وخت د ښه کولو لپاره راټولې کړي، ځکه چې په دې باندې د زړه جمع کول او راټولول د کارونو د بشپړېدو سبب ګرځي، او بنده د اندېښنې او غم څخه تسلي ترلاسه کوي کله چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا کوله یا به یې خپل امت ته د دعا لارښوونه کوله، نو هغه به د الله تعالی څخه د مرستې په غوښتلو باندې ټینګار کولو او د هغه د فضل امید لرلو ته به یې هڅول، ترڅو هغه څه ترلاسه کړي چې د هغې غوښتنه یې کوله او هغه څه باید پرېښودل شي چې د هغې د دفع کولو لپاره دعا کوي، ځکه چې دعا د عمل سره تړاو لري، بنده د هغه څه لپاره هڅه کوي چې په دینی او دنیایي چارو کې ورته ګټه رسوي، او له خپل رب څخه د خپل هدف د بریالیتوب غوښتنه کوي، او له هغه څخه مرسته غواړي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

(( اِحْرِصْ عَلَى مَايَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلاَ تَعْجَزْ، وَإِذَا أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلاَ تَقُلْ: لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَذَا كَانَ كَذَا وَكَذَا وَلَكِنْ قُلْ قَدَّرَ اللهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ ))

په هغه څه ټینګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالی نه مرسته وغواړه، او مه» کمزوری کېږه، که چېرته درته څه - زیان - ورسېده نو داسې مه وایه: که چېرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وو، خو ووایه: د الله تقدیر دی او هغه چې څه غوښتل هغه یې وکړل؛ ځکه د که چېرته کلمه د شیطان کړنې پرانیزي» مسلم روایت کړی دی نو هغه صلی الله علیه وسلم په هر حالت کې د ګټورو چارو په تعقیب کې هڅو باندې امر کړی، او د الله تعالی څخه مرسته غوښتل او هغو ضعفونو ته نه تسلیمېدل چې

زیان او لټې ترې پیدا کیږي، او تېرو وختونو او ترسره شوو چارو ته نه تسلیمېدل، او د الله تعالی قضاء او قدر مشاهده کول

او چارې یې په دوو ډولو وېشلې دي: یو هغه دي چې بنده کولی شي د هغې ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي او یا د هغه څه هڅه وکړي چې هغه ترې حاصلیدلی شي، او یا یې منع کولی شي او یا پکې کموالی راوستلی شي، نو په دې کې بنده خپله هڅه کوي او له خپل رب څخه مرسته غواړي او بل ډول هغه دي چې دا کار په کې ممکنه نه دی، نو بنده د دې کار په مقابل کې باید ډاډمن، مطمئن او تسلیم اوسي، او په دې کې شک نشته چې د دې اصل مراعات کول د خوښۍ او د اندېښنې او غم لرې کولو سبب ګرځي

## فصل

د سينې د پراخېدو او ډاډمنېدو يو له سترو لاملونو څخه  د الله ډېر ذکر کول دي ، ځکه چې دا د سينې د پراخېدو او ډاډمنېدو او د هغې د اندېښنې او غم په لرې کولو کې ډېر ښه اغېز لري، الله تعالی فرمايي:

﴿... أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾﴾ [الرعد: ٢٨]

خبر دار چې زړونه يوازې دالله په ذکر آرام نيسي   سورة الرعد :آية٢٨ نو د الله تعالی ذکر کول د دې هدف په ترلاسه کولو کې خورا لوی اغيز لري، کوم چې د ذکر ځانګړتيا بلل کېږي، او هغه اجر او ثواب دی چې بنده يې تمه لري

همدا راز، د الله تعالی د ښکاره او پټو نعمتونو پېژندل او يادولو سره، الله تعالی اندېښنې او غمونه لرې کوي، او بنده د شکر کولو لپاره هڅوي، کوم چې تر ټولو لوي او لوړ مقام دی، حتی که بنده د فقر، ناروغۍ، او يا د نورو آفتونو په حالت کې وي  نو که هغه د الله تعالی نعمتونه – چې بې شمېره دي – له هغو کړاونو سره پرتله کړي چې هغه ته رسېدلي دي، دغه کړاونه د هغو نعمتونو سره په پرتله کولو کې هېڅ فيصدي نه لري او د مقايسې وړ نه دي

بلکه، که الله تعالی بنده په بدبختيو او مصيبتونو سره وآزمويي، او هغه  بنده  د صبر، قناعت او تسليمۍ دنده ترسره کړي، نو د هغې شدت به اسانه، او پېتی به يې سپک شي، او د بنده هيله د دې مصيبتونو د صبر کولو اجر او ثواب او د الله تعالی عبادت د ترسره کولو له لارې د صبر او قناعت دنده ترسره کول، ترخه شيان ورته خواږه کېږي، او د اجر خوږوالي په خاطر د صبر تريخوالی هېروي

په دې حالت کې يو له خورا ګټورو شيانو څخه دا ده چې هغه څه وکاروي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته په صحيح حديث کې لارښوونه کړې ده چې فرمايي:

(( أُنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْــفَلَ مِنْكُمْ وَلاَ تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ  فَإِنَّهُ أَجْدَرُ أَنْ لاَ تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ ))

له ځانه ښکته کسانو ته وګورئ او له ځانه پورته کسانو ته مه ګورئ، ترڅو چې د الله» تعالی نعمت ځانونو باندې سپک او لږ و نه ګڼئ»  بخاري روایت کړی  که بنده دا ستره ملاحظه د خپلو سترګو په وړاندې کېږدي، نو هغه به وويني چې هغه د روغتيا او هغه څه چې هغې پورې تړلي دي، او د رزق او هغه څه چې هغې پورې تړلي دي، د ډېرو خلکو څخه مخکې دی او اوچت دی، که حالت او وضعیت یې څومره هم ناسم وي، نو په دې کار سره به د هغه اضطراب، اندیښنه او غم له منځه لاړ شي، او د الله تعالی په نعمتونو سره به يې خوښي زیاته شي، د هغه کسانو په تناسب چې هغوی له هغه څخه ښکته دي

هر څومره چې يو بنده د الله تعالی په ښکاره او پټو نعمتونو، ديني او دنياوي نعمتونو کې فکر کوي، هغه به وګوري چې رب يې هغه ته ډېر خير ورکړی او له هغه څخه يې ډېر شر لرې کړی دی، نو پرته له شک څخه چې دغه کار انديښنې او غمونه لرې کوي، او د نیکمرغۍ او خوښۍ باعث کېږي

# فصل

له هغو اسبابو څخه چې د خوښۍ موجب ګرځي او اندېښنې او غمونه لرې کوي، د هغو لاملونو د لرې کولو هڅه کول دي چې د اندېښنې باعث ګرځي، او هغه لاملونو ترلاسه کول دي چې د خوښیو باعث ګرځي، او هغه په دې شکل چې تېر شوي سختۍ باید هېرې کړل شي کوم چې د هغې مخنیوی نه شي کېدلی، او باید پوه شي چې د ذهن بوختول پر تېر شوي سختیو باندې بې ګټې او محال دي، او دا حماقت او لېونتوب دی، نو هغه د خپل زړه سره مبارزه کوي ترڅو د تېرو سختیو او کړاونو په اړه فکر کولو څخه ډډه وکړي، او همدارنګه د خپل زړه سره مبارزه وکړي چې د راتلونکي فقر، وېرې او نورو کړاونو په اړه هغه د اندېښنې څخه لرې وساتي، کوم چې تصور کوي چې ممکن په راتلونکي ژوند کې به ورته پېښ شي هغه پوهیږي چې راتلونکې چارې د خیر او شر، هیلې او دردونو له پلوه نامعلومې دي، او دا د لوی او حکمت لرونکي الله تعالی په لاس کې دي، بندګانو په لاس کې هېڅ نشته پرته له دې چې د دوی د خیر په ترلاسه کولو او د زیانونو د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړي، بنده پوهیږي چې که هغه خپل ذهن د خپلو چارو د راتلونکي په اړه له خپلې اندېښنې څخه واړوي او د هغې په سمبالولو او اصلاح کې په خپل رب تکیه او توکل وکړي، هغه به یې حل کړي، او د هغې په اړه به ډاډ ترلاسه کړي، نو که هغه دا کار وکړي، زړه به یې ډاډمن شي، وضعیت به یې ښه شي، اندیښنه او اضطراب به له هغه څخه لرې شي

د راتلونکي شیانو د ملاحظه کولو لپاره یو له خورا ګټورو کارونو څخه دا ده چې دغه دعا وکارول شي، کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل:»

(( اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِيَ الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيْهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِيَ الَّتِي إِلَيْهَا مَعَادِي وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَالْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ ))

یا الله! دین مې راته اصلاح کړه؛ هغه چې زما د چارو ساتنه په کې ده، دنیا مې راته» اصلاح کړه؛ هغه چې زما ژوند په کې دی، آخرت مې راته اصلاح کړه؛ چېرته چې زما ورګرځېدل دي، او ژوند راته د هرې ښېګڼې د زیاتوالي سبب وګرځوه، او مرګ راته له هر شر څخه د خلاصي سبب وګرځوه» مسلم روایت کړی دی او همدارنګه د هغه صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

(( اللَّهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلاَ تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ ))

،اې الله! زه ستا د رحمت هیله لرم، نو ما د سترګو د رپ په اندازه هم ځان ته مه پرېږده او زما ټولې چارې سمې کړه، له تا پرته بل معبود نشته ابو داود په صحیح سند سره روایت کړی که بنده دغه دعا د زړه د حضور او په اخلاص سره ووایي، کوم چې د هغه دیني او دنیاوي راتلونکي ښه والی پکې شامل دی، او د دې ترلاسه کولو لپاره خپلې هڅې هم جاري وساتي، الله تعالی به د هغه لپاره هغه څه پوره کړي چې هغه یې غواړي او هیله یې لري او د هغې لپاره یې کار او زیار وېستلی وي، پرته له شک څخه الله تعالی به یې ورکړي، او د هغه اندېښنې به په خوشحالۍ او خوښۍ بدلې شي

## فصل

او د اضطرابونو او اندېښنو د له منځه وړلو لپاره یو له ګټورو لارو څخه دا ده چې که چېرې بنده کومه ستونزه یا کړاو تجربه کړي، نو هغه باید د دې ستونزې تر ټولو بدې احتمالي پایلې په پام کې ونیسي او خپل ذهن د دې احتمالاتو لپاره چمتو کړي، نو کله چې دې ته تیار شو، باید هر څومره چې امکان لري ستونزې دې کمې کړي، د دې چمتوالي او هڅو په مرسته، د هغه اندېښنې او خپګانونه له منځه ځي، او دغه هڅې د بنده لپاره د ګټو د جلبولو او د ضررونو د مخنیوي لپاره آسانه لار ده

که کله د وېرو، ناروغیو، فقر او بې وزلۍ سببونه هغه باندې راشي، او له محبوبو شیانو څخه محروم شي، نو هغه باید دا په ارامۍ استقبال کړي او خپل ځان دې حالت سره عادت کړي، بلکې تر هغه حده چې ممکنه وي، ځکه چې د ځان عادتول په نامساعدو شرایطو کې، پېش شوي ستونزې او کړاوونه کموي او د سختۍ شدت یې هم کمېږي، په ځانګړې توګه که چېرې هغه د خپل توان په اندازه ستونزې دفع کړي، نو په دې حالت کې د ځان عادتول او ګټورې هڅې کول چې د بدبختیو په اړه اندېښنې لیرې کړي، یو ځای کېږي، هغه باید خپل ځان کې د کړاوونو په مقابل کې د مقاومت حس تجدید کړي، او په دې عمل کې خپل باور او اعتماد په الله باندې وساتي، او په دې کې شک نشته چې دغه کارونه لویې ګټې لري، چې د خوښۍ او زړه خوشحالۍ سبب ګرځي، سربېره پر دې چې بنده په دې کړنو کې د عاجل او آجل ثواب هیله لري، او دا یوه تجربه شوې خبره ده، او هغه خلک چې دغه پېښې یې تجربه کړې دي ډېر دي

# فصل

او د زړه د عصبي ناروغیو لپاره، او حتی د جسماني ناروغیو لپاره هم تر ټولو لوی علاجونه دا دي چې: زړه قوي وي او د بدو فکرونو لخوا راوړل شوي خیالاتو او وهمونو باندې نه خفه کېدل او نه ورته غبرګون ښودل دي او غصه او ګډوډي د کړاونو له اصلي لاملونو څخه دي، او که چا د بدبختیو د پیښو او د خوښیو د له منځه تللو په اړه اټکل وکړ هغه په غمونو، خپګانونو، د زړه او جسماني ناروغیو، او عصبي انهیار کې ښکیل کېږي چې هغه بیا خپلې بدې اغېزې لري، چې خلکو د هغې ډېر زیانونه لیدلي دي

نو کله چې زړه پر الله اعتماد او توکل وکړي، او د وهمونو او بدو خیالاتو په مقابل کې تسلیم نشي، او په الله باندې اعتماد ولري او د هغه د رحمت او فضل طمع ولري، نو په دې سره له هغه څخه غمونه او خپګانونه لرې کېږي، او د زړه او بدن ډېرې ناروغۍ له منځه ځي، او زړه ته هغه ځواک، خوشحالي او مسرّت ترلاسه کېږي چې نه شي بیان کېدلی، نو څومره روغتونونه د وهمونو او خرابو خیالونو ناروغانو څخه ډک دي، او څومره دغو موضوعاتو پر ډېرو قوي خلکو باندې تاثیر کړی دی، سربېره له ضعیفانو څخه، او څومره دغه کارونه د احمقۍ او جنون سبب شوي دي، نو محفوظ هغه کسان دي چې الله په خپل رحمت او توفیق سره محفوظ ساتلي او د نفس سره په مبارزه کې یې بریا او توفیق ورکړی وي، ترڅو د زړه د پیاوړتیا لپاره ګټور اسباب پیدا کړي چې اضطرابونه ورڅخه دفع کړي، الله تعالی فرمایي:

﴿... وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ...﴾ [الطلاق: ٣]

او څوک چې پر الله توکل وکړي نو همغه ورته بسنه کوي سورة الطلاق :آية 3 یعني الله تعالی په ټولو دیني او دنیوي چارو کې چې هغه ته مهمه ده کافي دی

نو هغه څوک چې پر الله توکل کوي، د هغه زړه قوي وي او وهمونه پر هغه اغیز نه کوي، او پیښې هغه نه پرېشانه کوي، ځکه چې هغه پوهېږي چې دا د نفس ضعف او د وېرې او کمزورتیا له امله دي چې حقیقت نه لري، او هغه پوهېږي چې الله هغه کسان چې پر هغه توکل کوي په بشپړه توګه د هغه کفایت کوي، نو په الله باور لري او د هغه په وعدې اطمینان لري، نو لدې کبله د هغه غم او اضطراب لیرې کېږي، او سختۍ یې په آسانۍ، او غم یې په خوښۍ، او وېره یې په امن بدلوي نو موږ د الله تعالی څخه د صحت او د زړه د قوت او ثابت پاتې کېدو دعا کوو، او د کامل توکل غوښتنه کوو چې الله یې خپلو بندګانو ته د هر ډول خیر او د هر ضرر او زیان د دفع کولو ضمانت ورکړی دی

## فصل

۱۳- او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې قول کې:

(( لاَ يَفْرُكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقاً رَضِيَ مِنْهَا خُلُقا آخَرَ ))

«مومن سړی دې له مؤمنې ښځې کرکه نه کوي، که د هغې یو خوی یې نه خوښېده بل به یې خوښ شي» مسلم روایت کړی دی دوه سترې ګټې:

لومړی ګټه: د ښځې، کورنۍ، ملګري، او تعامل کوونکی، او هر هغه څوک چې له تاسو سره اړیکه او تړاو لري، د تعامل لپاره لارښوونه، او دا چې تاسو باید خپل ځان ته عادت ورکړئ او پوه شئ چې هر چا کې به یوه نیمګړتیا، عیب یا څه شی وي چې تاسو یې نه خوښوئ، که داسې څه دي ومومند، نو د دې پرتله کولو لپاره باید هغه څه ته پام وکړئ چې تاسو ته لازمي یا مناسب دي، لکه د اړیکو قوي کول او د مینې د ساتلو اړتیا، او د هغه ښه ځانګړتیاو او اهدافو ته په یادولو سره، د بدیو څخه سترګې پټول او د ښېګڼو په نظر کې نیول، ترڅو ملګرتیا او اړیکه دوام وکړي، او ستاسو لپاره بشپړه آرامي حاصل شي

دویمه ګټه: د غم او اضطراب له منځه وړل، د صفا پاتې کېدل، او د واجب او مستحب حقوقو پر ځای کولو باندې دوام: او د دواړو ترمنځ د آرامۍ ترلاسه کول، نو څوک چې د دې لارښوونې څخه پیروي نه کوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یادونه کړې ده - بلکې برعکس، خرابیو ته پام وکړي او د ښېګڼو څخه سترګې پټې کړي - نو بې له شکه هغه ته به خپګان ورسیږي، او د هغه چا ترمنځ چې ورسره اړیکه لري د مینې اړیکې به خرابې شي، او ډېر حقوق چې هر یو باید پرې پاملرنه وکړي له منځه ځي

او ډېری خلک چې لوړ همت لري، خپل ځانونه د آفتونو او مشکلاتو په وخت کې د صبر او ارامۍ لپاره عادت کوي خو کله چې د کوچنیو او ساده مسایلو سره مخ شي، خپه کیږي او

صفا ژوند یې ګډوډېږي، او دا د دې لپاره دی چې هغوی خپل ځانونه د لویو مسایلو لپاره عادت کړي، خو د کوچنیو مسایلو لپاره یې داسې نه دي ترسره کړي، چې له دې سره د هغوی آرامۍ ته زیان رسېږي او په راحتۍ یې منفي اغیزه لري، خو پریکنده او هوښیار کسان خپل ځانونه د لږ او لوی مسایلو لپاره عادت کوي، او له الله څخه د مرستې غوښتنه کوي، او غوښتنه کوي چې دوی خپلو نفسونو ته یوازې پرې نږدي، نو په دې توګه د کوچنیو مسایلو سره په آسانۍ مخامخ کیږي لکه څنګه چې د لویو مسایلو سره په آسانۍ مخامخ کیدو او زړه یې ارامه او نفس یې مطمئن پاتې کیږي او په آرامۍ سره ژوند کوي

## فصل

عاقل انسان پوهېږي چې د هغه صحيح ژوند، هغه ژوند دی چې د خوښۍ او ارامۍ ژوند وي، او دا چې هغه ډېر لنډ دی، نو هغه نه باید خپل ژوند د غمونو او کړاوونو سره نور هم لنډ کړي، ځکه دا د صحیح ژوند ضد دی، هغه خپل ژوند دې ته نه ورکوي چې ډېره برخه يې د غمونو او کړاوونو په لاره تېره شي، په دې کې د نېک او بد انسان ترمنځ هېڅ توپير نشته، خو مومن ته په دې ځانګړتيا کې ډېر لوی عاجل او آجله برخه او ګټه ده

او دا هم بايد وکړي چې کله هغه ته کوم ناخواله ورسېږي يا هغه څه چې ترې وېره لري، هغه دې د نورو ديني او دنيوي نعمتونو سره چې ورته حاصل شوي، او هغه ناخواله چې ورته پېښ شوي دي پرتله کړي، نو کله چې هغه سره پرتله کړي، نو واضح خبره ده چې هغه ډېر نعمتونه چې ورسره دي، او هغه څه چې ورسره ناخواله شوي، کمزوري او هېڅ نه ښکاري

او همدارنګه هغه بايد د هغه څه پرتله وکړي چې له هغې څخه د زيان رامنځته کېدو وېره لري، او د هغه ګڼ شمېر احتمالاتو سره چې د هغې څخه د سلامتي لپاره شتون لري، نو هغه بايد کمزوري احتمالات پرې نږدي چې د ډېرو قوي احتمالاتو پر وړاندې غالب شي، او په دې توګه يې غم او وېره لرې کېږي، هغه بايد خپل ځان د هغو احتمالاتو سره چې ممکن ورته پېښ شي تيار کړي، او د هغه څه لپاره چې نه دي پېښ شوي، هڅه دې وکړي چې له هغې څخه دې ځان وساتي، او د هغه څه لپاره چې پېښ شوي، په رفع کولو يا کمولو کې هڅه وکړي

او د ګټورو شيانو څخه دا ده چې پوه شي چې تا ته د خلکو زيان رسول، په ځانګړې توګه په بدو خبرو کې، تاسو ته زيان نه رسوي بلکې هغوی ته زيان رسوي، پرته له دې چې تاسو خپل ځان په دې فکر کې بوخت کړئ او دې ته اجازه ورکړئ چې ستاسو احساساتو

باندې تسلط پیدا کړي، نو په دې حالت کې دا تاسو ته هم زیان رسوي لکه څنګه چې هغوی ته زیان رسوي، خو که تاسو ورته پام و نه کړ، نو تاسو ته به هیڅ زیان ونه رسیږي

او پوه شه چې ستا ژوند ستا د فکرونو تابع دی، که چیرې ستا فکرونه د هغو شیانو په اړه وي چې ستا لپاره د دین یا دنیا په برخه کې ګټه لري، نو ستا ژوند به خوشحاله او نیکمرغه وي، او که نه، نو موضوع به بیا برعکس وي

او د غم د لرې کولو لپاره له ټولو ګټور شیز هغه څه دی چې خپل ځان ته عادت ورکړې چې شکر یوازې له الله نه وغواړې، که چیرې ته هغه چا ته ښېګڼه وکړې چې تا باندې حق لري یا هغه چا ته چې حق نه لري، نو پوه شه چې دا یو ډول معامله ده چې ته یې له الله سره کوي  نو د هغه چا له شکر څخه بې پروا اوسه چې ورباندې انعام کړی، لکه څنګه چې الله تعالی د خپلو ځانګړو خلقو په حق کې فرمایي:

﴿إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا٩﴾ [الإنسان: ٩]

وایي  موږ یوازې د الله د مخ لپاره خواړه درکوو، نه له تاسې بدله غواړو او نه مننه تشکري   سورة الإنسان :آیة٩

او دا په ځانګړې توګه د کورنۍ او اولادونو سره په معاملې کې څرګندیږي، او د دې سره چې ستا اړیکه ورسره څومره قوي وي، نو کله چې خپل ځان ته عادت ورکړې چې بدۍ له هغوی څخه لرې کړې، نو ته به آرام شې او خپله ارامتیا به ترلاسه کړې، او د آرامۍ یو لامل دا دی چې فضایل واخلی او پر هغو د رواني هڅوني له مخې عمل وکړې، پرته له هغه تکلف څخه چې ته یې په اړه فکر کوې، او ته د فضیلت په ترلاسه کولو کې مایوسه خپلې لارې ته راستنیږې، ځکه چې کړه لار دې انتخاب کړې ده، او دا د حکمت

څخه ده چې ته له کړاوونو څخه صفا او خواږه شیان جوړ کړې، نو په دې توګه د خوندونو صفايي ډېرېږي او کړاوونه له منځه ځي

ګټورې چارې په ذهن کې وساته او د هغو د ترلاسه کولو لپاره کار وکړه، او زیان رسوونکو شیانو ته پام مه کوه، ترڅو د هغو لاملونو څخه چې د اندیښنې او غم سبب ګرځي، خپل پام واړوې، او د راحتۍ او د نفس د تمرکز په مرسته د مهمو چارو ترسره کولو ته توجه وکړه

او د ګټورو شیانو څخه دا هم ده چې کارونه په وخت سره بشپړ شي، او راتلونکي لپاره ځان فارغ کړی، ځکه چې که کارونه په وخت نه وي ختم شوي، نو پخواني پاتې کارونه به له نوو کارونو سره یوځای شي، او فشار به يې ډېر شي، خو که ټولې چارې په خپل وخت سره حل کړې، نو راتلونکي کارونو به په قوي فکر او عمل ترسره کړې

ته باید د ګټورو کارونو تر ټولو مهم انتخاب کړې، او د هغه څه ترمنځ توپیر وکړې چې ستا روح ورته تمایل لري او هغه څه چې ته يې په کلکه غواړې، ځکه چې د هغې برعکس د ستړیا، تنګېدا او کړاو لامل کېږي، پدې کې د صحیح فکر او مشورې څخه مرسته وغواړه، ځکه چې هغه څوک چې مشوره کوي هېڅکله به پښېمانه نه شي، هغه څه چې غواړې يې ترسره يې کړه، په دقت سره يې وڅېړه، او که مصلحت يې ثابت شو او اراده دې وکړه، نو په الله توکل وکړه، ځکه چې الله تعالی توکل کوونکي خوښوي

والحمد لله رب العالمين

وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم

رئاسة الشؤون الدينية

بالمسجد الحرام والمسجد النبوي